محمد انور آخړ

۲۰۲۱/۱۱/۱۵

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### پنځه لسمه برخه



**افغانستان:**

**د ولسمشر غني تېښتې دريځ ماتېدل او ليونی تېښتي عوامل:**

لکه وړاندې چې يادونه وشوه، ښکاري چې د ولسمشر په تېښتې دريځ کې تېره شپه (د اګست ۱۴مه) د بلخ ولايت د سقوط له امله بدلون راغلی وي او بل عامل يې د دفاع وزير بسم الله خان، طالبانو ته له وړايه تسليمدل، پنجشېر ته د لومړي مرستيال امرالله صالح په پټه تلل چې نوموړی له آره د ولسمشر غني په خبر يا له هغه زيات د طالبانو پر وړاندې ولاړ ؤ او نه پخولا کيدونکي دريځ باندې ولاړ ؤ.

دفاع وزير جنرال بسم الله خان، په نه ليدو له وړايه طالبانو ته تسليم شوی او مورال يې له لاسه ورکړی ؤ، هغه مهال چې نوموړی جنرال د کابل بالاحصار ته له ولسمشر غني سره د روان حالت په هکله د يو ويډيويي پيغام د ثبتولو په موخه تللی ؤ، د رباني د دولت پر مهال په بالاحصار کې د طالبانو پر وړاندې د مقاومت خبرې کولې ولسمشر ته يې ويل چې له دغه ځايه يو کال د طالبانو پر وړاندې جګړېدلی دی او طالبان ونه توانېدل چې د ميدان ښار له لارې کابل ته راننوځي. [ښاغلی وحيد عمر چې له دوی سره مل ؤ هغه ته وايي: ] دا دويم امتحان دی چې عين کار تکرار شي. [دفاع وزير] په نهيلۍ ګوري او ورو وايي:**«دا واري سخته ده.»** (وحيد عمر: د جمهوريت ۷۲ وروستي ساعتونه؛ ارګ کې د درييو وروستيو ورځو پېښو روايت، ليکنه)

وړاندې له دې د د اګست په ۱۳مه د جمعې ورځې په دوه نيمو بجو، ... ځانګړی امنيتي ناسته داېرېږي ... د دفاع وزير خفه دی، د مقاومت خبره لږه کوي. امرالله صالح چې غږېږي، د دفاع وزير په بېباورۍ ورته ګوري. هڅه کوي دا ووايي چې طالبان په کومو ځايونو کې چې واکمن شوي دي، له خلکو سره يې بد چلند نه دی کړی. د بسم الله خان له خبرو داسې ښکاري چې نور د مقاومت په نتيجې باوري نه دی. امرالله صالح د بسم الله خان دا خبرې د طالبان سپين ښودل بولي او وايي په امنيتي او دفاعي ځواکونو کې چې کوم مغلوب ذهنيت رامنځته شوی، دا د ماتې لامل کېږي. د امرالله صالح او بسم الله خان ترمنځ څو جملې تبادله کېږي. ولسمشر مداخله کوي او د ناستې فضا سړېږي. (هماغه سرچينه)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښاغلي ولسمشر او نور چارواکي د جنرال بسم الله خان د جګړې نه کولو په نيت او ټيټ مورال پوهيدلي وي چې له امله يې جنرال سميع سادات چې هغه هم د هلمند له سقوط وروسته کابل ته راتبنتيدلی ؤ، د کابل د امنيتي ځواکونو عمومي قوماندان وټاکل شو.

د ولسمشرۍ مانۍ لومړی مرستيال امرالله صالح بيګا شپه يا د يکشنبې په سهار وختي پرته له دې چې ولسمشر غني ته خبر ورکړي؛ کابل پرېښی پنجشېر ته تللی دی. د ولسمشر غني دويم مرستيال استاد دانش ارګ ته تللی دی چې د کابل هوايي ډګر ته په چورلکه کې ولاړ شي او له هغه ځايه استانبول ته پرواز وکړي... (هماغه مرجع)

د ښاغلي وحيد عمر په خبر، د ولسمشر غني يو بل همکار او د تبټنې ملګری چې د ۸صبح ورځپاڼې د امتياز خاوند ښاغلي سنجر سهيل، د راوي په غوښتنه هويت نه څرګندوي په يوه ځانګړي ليکنه:(د اشرف غني د تېښتې تازه او ناويل شوي خبرې؛ په هغو ځلوېښت ساعتونو کې پر اشرف غني او ملګرو يې څه تېر شول) کې ليکي:«په همدې وخت کې خبر راورسېد چې د ولسمشر لومړی مرستيال امرالله صالح دوه ورځې مخکې پنجشير ته تللی او تراوسه بېرته نه دی راغلی.» (۸صبح: د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)

د ولسمشر غني د تېنګ درېځ د ماتيدلو بل عامل پاکستان ته د افغان سياسي مشرانو تېښته وه چې د زمري په ۲۴مه (اګست ۱۵مه) نېټه د شمالي ټلوالي او ځيني نور د امريکايانو مزدوران او خواخوږي پاکستان ته په تښتيدو وو، په دغه تښتيدليو کې د ولسي جرګې مشر مير رحمان رحماني، صلاح الدين رباني، يونس قانوني، احمد ضيا مسعود، احمد ولي مسعود، لطيف پدرام، کريم خليلي، محمد محقق او خالد نور شامل وو، د دغو کسانو په هکله ويل کيدل چې د پاکستان حکومت له خوا غوښتل شوي دي خو موږ ګمان نه کوو چې دوی به د پاکستان په غوښتنه، په داسې حساس او بېړني حالت کې غوښتل شوي وي، دا داسې حالت دی چې د دوی په خبر کسان له هيواده په تېښته دي، په دغو اتو تنو کې يو پښتون هم نشته، دوی په داسې بېړنيو حالاتو کې تل له پردیو يرغلګرو سره د افغانستان په نيولو کې مرسته کړې ده، اوس مهال په وېره کې دي چې د خپلو اعمال سزا به ويني او پاکستان چې تر پرونه پورې يې خپل د سر دښمن ګاڼه، پنا وروړې.


(د پاکستان د بهرنيو چارو وزير د افغان خايينانو په منځ کې)

ښاغلی عمر وړاندې د دوی له تګ ليکي چې د اګست په ۱۴مه [نېټه د غونډې په پای کې] يونس قانوني ولسمشر ته وايي چې د مقاومت يو شمېر سياسي مشران اسلام آباد ته بلل شوي دي، ټاکل شوي ده چې سبا هلته ولاړ شو، له ولسمشر اجازه غواړي، ولسمشر په غوسه کېږي او وايي چې دا وخت پاکستان ته د تللو نه دی. په دې وخت کې پاکستان ته د سياسي مشرانو تګ به ښه پيغام ونه لري، قانوني هيڅ نه وايي.

د اګست په ۱۴مه د ماسپښين [په غونده کې د سياسي مشرانو موخه دا ده] چې ډاکټر غني بايد له واکه ليرې شي، د هغه د کار دوام د خپلو بهرنيو چارو وزير په شمول، هېڅا ته د منلو نه دی. په دولت کې دننه او بهر سياسيونو محاسبه دا ده چې

که ډاکټر غني له صحنې ووځي، طالبان به له دوی سره جوړجاړی وکړي او مشارکتي حکومت به جوړ کړي. طالبانو په دې اړه مخکې له مخکې سياسي مشرانو ته ځيني پيغامونه ورکړي وو. (وحيد عمر: د جمهوريت ۷۲ وروستي ساعتونه...)

پورته او نور عوامل د ولسمشر غني د ټينګ درېځ د بدلون سبب شول چې د پروني جګړه ييز پيغام چې په بالاحصار کې ثبت شوی ؤ، پر ځای يې يو بل د معقولې سياسي حل لارې پيغام خپور شو. په تړاؤ يې ښاغلی وحيد عمر خپل د سترګو ليدلی حال داسې ليکي: د اګست ۱۴مه د سهار لس نيمې بجې:«له همکارانو سره ګلخانې مانۍ ته ځم چې د ولسمشر نوی پيغام ثبت کړو. له ملي راديو تلويزيون او د ارګ له تولنيزو پاڼو اعلان کوو چې ولسمشر افغان ولس ته مهم پيغام لري، خو اصلاً د ويلو لپاره مهم څه نه لري. پيغام خنثی او بې محتوا دی، رابشکون په کې نشته، په رسنيو کې پوښښ نه پيدا کوي. پرون چې په بالاحصار کې کوم پيغام ثبت شوی ؤ، هغه ښه ؤ، خو د نشر اجازه مو يې ترلاسه نه کړه. د پرون پيغام د مقاومت او درېدو پيغام ؤ، په نني پيغام کې د مقاومت خبره نشته، په نني پيغام کې د (معقولې سياسي حل لارې) خبره شوې ده. پرون شپه څه وشول او ولې (د مقاومت او درېدو پيغام) د (معقولې سياسي حل لارې په موندلو) بدل شو؟...»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښاغلی عمر وړاندې وايي:«ماسپښين دوه نيمې بجې پخواني ولسمشر حامد کرزي او نورو سياسي مشرانو له ولسمشر غني څخه د واک د لېږدولو غوښتنه وکړه او ولسمشر غني د واک پرېښودلو ته غاړه کېښوده ويې ويل چې يو باصلاحيته پلاوی دې وټاکل شي چې سبا ورځ قطر ته ولاړ شي او له طالبانو سره نهايي پرېکړه وکړي، [ولسمشر] دا خبره وکړه او په بېړې سره بې له خدای په امانی له ناستې ووت.»

## د زمري ۲۴مه، د اګست ۱۵مه د لويي تېښتې ورځ

## د ولسمشر غني د ليونی تېښتې عوامل:

داسې ښکاري چې کله د ولسمشر غني ټينګ مورال د بېلابېلو لاملونو له کبله ټيټ شو او د واک تر سپارلو پورې حاضر شو نو د دا ډول ټيټ مورال پر وړاندې لا نور خطرونه هم رامنځ ته شول چې له امله يې ولسمشر يوې نا سنجول شوي تېښتې ته اړ کړ، د اګست په ۱۵مه شپه د مېدان ښار خط هم مات شوی او طالبان تر کمپنۍ را مخکې شوي دي. څوک پيغام کوي چې په دهبوري کې يې د کور په مخ کې د طالبانو موټر تېر شو. بل پيغام کوي چې طالبان ارزان قيمت ته دننه شوي دي. بل پيغام کوي چې پغمان سقوط وکړ، بل وايي جمهور رئيس، ډاکتر محب او ډاکتر فضلي تښتېدلي دي، ټوله شپه همدا ډول پيغامونه تبادله کېږي. (وحيد عمر: د جمهوريت ۷۲ وروستي ساعتونه...)

د نورو چارواکو تر څنګ ښاغلی وحيد عمر ولسمشر ته وېرووونکي خو رښتني مالومات ورکوي هغه وايي:«په نهه نيمو بجو زموږ ناسته پيلېږي، ولسمشر آرام دی، له ما غواړي چې د وضعيت په اړه ورته ووايم، زه ورته وايم چې: په کابل کې عجيبه وېره ده، ښايي لږ خلک تېره شپه ويده شوي وي، آوازه ده چې کابل سقوط کوي. نن واتونه تش دي، حکومت فلج دی، حکومتي کارکوونکي دفترونو ته لږ راغلي، آن د حکومت وزيران او مرستيالان نه پوهېږي چې څه روان دي او څه کېږي، زه پوهېږم چې دا خبرونه نوي نه دي، په ناسته کې ټول پر وضعيت پوهېږي؛ يوازې د خپلې وظيفې په توګه درته دا خبرې کوم.» (هماغه منبع)
د ولسمشر او د هغه د ملګرو د وېرې بل عامل د اګست ۱۵مه د سهار يوولس بجې ... د ډزو غږ اورېدل کېږي. په ارګ کې عجيبه انارشي خپرېږي، ذهنونه له مخکې نه دې ته چمتو دي چې طالبان کابل ته را ننوتي دي. (هماغه منبع)
په همدې ورځ په ارګ کې دننه د ګډوډۍ په هکله د ولسمشر يو بل د تېښتې ملګری داسې وايي:«کله چې پخلنځي ته لاړو ومو کتل، تيار شوي خواړه له لاسوهنې پرته پر منقلونو ايښي، خو د ارګ د پخلنځي کارکوونکو درک نه ښکارېده. هغوي هم تښتېدلي وو. په همدې وخت کې د ارګ شاوخوا د ډزو غږونه اورېدل کېدل او په دې سره وېره زياته شوه. ځينو ويل، چې ډزې د خلکو د خوړولو لپاره دي، چې له بانکونو د خپلو پيسو د ايستلو لپاره هلته تللي... د ارګ شاوخوا ډزې يوولس يا يوولس نيمې بجې وې. چې د ارګ کارکوونکي يې وويرول او په همدې وخت کې جوپه جوپه له ارګ څخه ووتل. (۸صبح: د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)
په داسې حال کې چې د اګست په ۱۵مه له غرمې وروسته: هوايي ميدان د نړيوالو ځواکونو په کنټرول کې دی. د دفاع وزير، د ملي امنيت رئيس او نورو حکومتي چارواکو هېڅ درک نشته، داسې ښکاري چې د دولت دستګاه نوره له کاره لوېدلې ده. ډاکتر غني ته د حکومت او اداري او امنيتي دستګاه په نوم څه پاتې دي، نور د دولت په نوم څه نه دي پاتې، دولت رسماً پاشل شوی. (وحيد عمر: د جمهوريت ۷۲ وروستي ساعتونه...)
کابل هوايي ډګر ته د امريکايانو نوي سرتيري راغلي او د راتلو په حال کې دي، هوايي ډګر د دوی په لاس کې ؤ، زما (ليکوال) د تره زوی چې په هوايي ډګر کې يې پوځي دنده درلودله وويل:«امريکايي ځواکونو ټول افغان ځواکونه له هوايي ډګره وايستل په داسې حال کې چې لويه ګډوډي روانه وه، په هوايي ډګر کې هغه الوتکې چې د افغان په هوايي ځواک پورې يې تړاو درلود، کابل هوايي ډګر پرېښود هوا ته والوتلې، امريکايي ځواکونه هېڅ ډول کورنۍ او بهرنيو الوتکو ته د ناستې او ښکته کېدو اجازه نه ورکوي.»
د کابل هوايي ډګر او د افغانستان هوايي قلمرو د امريکايانو په واک کې ؤ، ښايي دا وجه وي چې ولسمشر غني او ورسره کسان کابل هوايي ډګر ته پرواز ونه شو کړای چې له کبله يې اړ شول په هغو چورلکو کې له هېواد ووځي چې په ارګ کې ناستې وې.
په دې تړاؤ د ارګ يو چارواکی او د ولسمشر همرکابه داسې وايي:«ايم اوولس روسۍ چورلکې، په معمولي توګه درې خدمې [عمله] لري چې يو پيلوټ، د پيلوټ مرستهکوونکی او يو تخنيکر دی. په هغې چورلکې کې چې زه ناست يم، له تخنيکر څخه مې وپوښتل چې چېرته روان يو؟ خو هغه د الوتنې د ځای په هکله څه نه وايي. يوازې وايي، چې د افغانستان هوايي قلمرو د امريکايي ځواکونو په لاس کې دی، هغوی ته له امريکايانو سره له همغږۍ پرته د الوتنې فرصت تراوسه نه دی برابر شوی او له همدې امله نه پوهېږي، موخه کوم ځای دی. دې مسالې د چورلکې د تخنيکر پر روحيې اغېزه کړې او په څېره کې يې په روښانه توګه ډار وينم. نوموړی زياتوي، چې له امريکايي ځواکونو سره له همغږۍ پرته چې د افغانستان هوايي قلمرو يې تر کنټرول لاندې دی، کولای شي وژونکی وي. هغه وايي، حتي هغه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

الوتکه چې ولسمشر هم په هغې کې ناست وي، نه شي کولای له هغو سره له همغږۍ پرته د افغانستان په هوايي قلمرو کې الوتنه وکړي.» (۸صبح: د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)
داسې ښکاري چې ولسمشر غني د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب ته دنده سپارلې وي چې د عربي اماراتو له چارواکو سره د راتلونکي سیاسي پنا په اړه خبرې وکړي چې لومړی د ولسمشر میرمن او نورو کسانو او بیا ولسمشر غني ته پنا ورکړي او په هکله یې ښاغلی وحید عمر وايي:«د اګست په ۱۵مه د سهار نهه بجې وروسته چې رسنیو کې کوم عکس خپور شو، ښودل یې چې ولسمشر او د ملي امنیت سلاکار په هغه سهار د متحده عربي اماراتو د استخباراتو له مرستیال سره د حرمسرای په انګړ کې لیدلي دي. دا لیدنه د ولسمشر په رسمي مهالویش کې شامله نه وه. په دې خاطر د دغې لیدني د جزیاتو او څرنګوالي په اړه لومړی لاس معلومات نه لرم. خو وروسته مې د هغې ناستې جزئیات واورېدل، هغه معلومات دلته په دې خاطر نه لیکم چې د صحت او سموالي په اړه یې اوس هم تدقیق کوم.»
هغه مالومات چې ښاغلي عمر نه دي تکمیل کړي، د ولسمشر غني بل چارواکی یې په دې ترتیب روښانه کوي وايي:«زه وروسته پوه شوم، چې ځینو لوړپوړو حکومتي چارواکو لکه حمدالله محب څو ورځې وړاندې پلان [جوړ] کړی ؤ، چې اشرف غني ته نږدې ځینې کسان متحده عربي اماراتو ته ولېږي. هغوی د همدې لپاره په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان له سفارت سره اړیکه نیولې وه او سفارت ته یې د دې ډلې د سفر ویلي وو. د دې ډلې غړي ۱۳ تنه وو چې په هغو کې د ولسمشر میرمن رولا غني، د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب، یو مرستیال یې او ځینې نور رولا غني ته نږدې کسان وو. له بده مرغه سرچینې د لسو نورو کسانو د هویت په هکله اړین معلومات نه درلودل، خو ویل یې چې د دې ډلې پاتې غړي د رولا غني نږدې کسان او دستیاران وو. دغو ۱۳ کسانو ته د هغې ورځې الوتنې، یانې د یکشنبې پر ورځ د زمري پر ۲۴مه د اماراتو هوايي الوتکه کې دیارلس څوکۍ ریزرف شوي وې. د تېر په څېر تمه وه چې اماراتو الوتکه له غرمې وروسته یوه نیمه بجه ناسته وکړي او په هماغه ورځ څلور بجې او شل دقیقې له خپلو مسافرینو سره له کابله دوبۍ ته الوتنه وکړي، که څه هم د اماراتو الوتکې د کابل پر لوري الوتنه وکړه، خو په کابل هوايي ډګر کې د رامنځ ته شوې ګډوډۍ او پر دغه هوايي ډګر د زرګونو کسانو د هجوم له کبله چې نظم یې ګډوډ کړی ؤ، ونه توانېده ناسته وکړي. د اماراتو الوتکه بېرته د دوبۍ لوري ته ځي او له همدې کبله د ۱۳ کسانو چې یادونه یې وشوه، وتل ناممکن شول، په هغې ورځ هم څلور الوتکې د ارګ په انګړ کې ولاړې وې.
په همغې ورځ پوه شوم چې د دغو چورلکو له ډلې یوه به یې هغه دیارلس کسیزه ډله چې مخکې یادونه وشوه، کابل هوايي ډګر ته ولېږدوي، تر څو هغوی د دوبۍ پر لور الوتنه وکړي او دوه نورې چورلکې [د ولسمشر غني د ورتګ د امنیت ساتلو په موخه] د ولسمشر ساتونکي په ملي دفاع وزارت کې ځای پر ځای کړي او همدارنګه ټولې دغه چورلکې تیارې وې چې ولسمشر د دفاع وزارت ودانۍ ته بوځي.»
د ارګ شاوخوا د ډزو له اورېدو ساعتونه مخکې د ولسمشر ډېریو ساتونکو خپلې جامې بدلې کړې وې او یو شمېر یې له ارګه وتلي وو ... د ولسمشر د ساتونکو قطعه په همغو شیبو کې ړنګه شوې وه او هېڅ یوه د پوځي سلسله مراتبو او اوامرو څخه اطاعت نه کاوه. (۸صبح:د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)
ولسمشر غني وروسته له تېښتې څخه په خپله یوه وینا کې چې له عربي متحده اماراتو خپره شوه، تاییدوي چې د ارګ ساتندویه ځواکونه پاشل شوي وو او د دفاع ځواک یې نه درلود ښاغلی غني وايي:«سره له دې چې طالبانو کابل ته د نه داخلیدو ژمنه کړې وه خو دوی د ارګ د دروازو په شاوخوا ځای پرځای شوي وو او زموږ امنیتي مسؤلینو د امنیت توان [یې] له لاسه ورکړی ؤ.»
د اګست په ۱۵مه د ماسپښین یوه نیمه بجه، ډاکتر محب او خلیل حقاني په خپلو کې په ټیلیفون خبرې کوي. دغه ټیلیفوني خبرې پر هغه وضعیت مستقیم اغېز لرلی شي چې ۹۰ دقیقې وروسته واقع کېږي. محب، حقاني ته زنګ وهلی ؤ که حقاني محب ته، نه پوهېږم؛ خو د دې ټیلیفوني خبرو لومړی لاس جزئیات مې له هغه چا واورېدل چې هلته موجود ؤ.
لکه څرنګه چې ښاغلي عمر لیکلي چې دغه ټیلیفوني اړیکې په روان حالت مخامخ اغېز لري، داسې ښکاري چې خلیل حقاني د ملي امنیت شورا سلاکار ښاغلي حمدالله محب ته په ارګ باندې د یوې ډلې وسله والو طالبانو د برید او د ولسمشر غني د وژلو وېرونکی خبر ورکړی وي چې په خپله ولسمشر یې هم یادونه کوي وايي:«تصمیم این بود که آنچه کې ۲۵ سال قبل در افغانستان رخ داده بود تکرار شود.»
ولسمشر زیاتوي:«که پاتې وای د افغانستان جمهور رییس به یو وار بیا د افغانانو د سترګو پر وړاندې په دار ځړول شوی وای او یوه لویه شرمناکه فاجعه به تکرار شوې وای.»
ښاغلی وحید عمر وايي چې د اګست ۱۵مه د ماسپښین په دوه نیمو بجو ها خوا په لس متره فاصله کې د جمهور رئیس دستیار سهراب احمد ولاړ دی، زه د سهراب خوا ته ورځم، پوښتنم یې چې څه خبره ده؟ سهراب وايي دفاع وزیر بسم الله خان زنګ را وهلی ؤ، له ولسمشر سره یې لنډې خبرې وکړې. کوم مهم پیغام یې ورته درلود، له هغه پیغام وروسته جمهور رئیس راته وویل چې د دفاع وزارت ته ځو.
د ارګ هغه بل چارواکی هم وايي چې ... تر همغې شیبې پورې مې ګومان کاوه، چې موږ د دفاع وزارت ودانۍ پر لور ځو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ښاغلی عمر وړاندې ځي وايي چې زه په منډه يوې چورلکې ته پورته کېږم، څه ګورم؟ چورلکه له مخکې ډکه ده، اووه تنه په کې سپاره دي. د جمهور رئيس مېرمن او ياور يې، د ملي امنيت سلاکار او د امنيت شورا څلور کارکوونکې همدا اووه کسان دي او نور ځوک نشته؟ ولسمشر چېرې دی؟ بيک او رحيمي هم په ارګ کې وو، هغوی څه شول؟

د ارګ بل چارواکی چې د ولسمشر سره مل ؤ په دې اړه وايي:«له لېرې مې وليدل چې د چورلکو څرخونه تاوېږي او الوتنې ته تياری دي، ځان مې يوې چورلکې ته ورساوه او چورلکه کې د يوې کړکۍ سره کېناستم، په بله چورلکه کې حمدالله محب، د ولسمشر د ساتنې قطعې رييس جنرال قاهر کوچۍ، رولا غني او ځينې نور ناست وو. ما ګومان کاوه، هغه چورلکه غواړي، چې د کابل هوايي ډګر پر لور والوځي؛ خو داسې ونه شوه.»

راوی زياتوي او وايي:«له بلې خوا تر همغې شيبې پورې مې ګومان کاوه، چې موږ د دفاع وزارت ودانۍ پر لور ځو. خو ومې ليدل، چې حمدالله محب او جنرال ظاهر کوچۍ له اولې چورلکې پياده شول او يوه موټر ته چې هماڵته نږدې ولاړ ؤ سپاره او د اشرف غني د کور پر لور، چې هماڵته نږدې ؤ لاړل اووه دقيقې وروسته بېرته له همغه موټر سره راستانه شول، مې ليدل چې هغوی له ځان سره اشرف غني هم راوستی دی.» (۸صبح:د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)

کله چې هغه سپين رنګې معمولي موټر کې چې څو دقيقې وړاندې حمدالله محب او د ولسمشر د ساتونکې قطعې رييس بېرته راغلل، ومې ليدل چې اشرف غني يې له ځان سره راوستی دی. هغوی په بېړه چورلکې ته وختل. په همدې وخت کې د ولسمشر ډېر شمېر ساتونکې د چورلکو لور ته نږدې کېږي. ما د چورلکې له کړکۍ ليدل، چې د ولسمشر د ساتونکو ترمنځ فزيکې شخړه پيل شوی ده او هر يو هڅه کوي چې د بل په ټېل‌وهلو چورلکې ته پورته شي. دا په داسې حال کې وه چې چورلکو اووه دقيقې مخکې چالانې شوې وې او پر پورته کېدو يې پيل وکړ. ما وليدل چې د ولسمشر ساتونکې يو بل پر سوکانو او لغتو وهل او هر يوه هڅه کوله، چې د بل په ټېل‌وهلو ځان چورلکې ته ورسوي. په داسې حال کې چې چورلکې په هوا کېدو وې، د ولسمشر څو ساتونکې له هڅو سره سره ونه توانېدل، چورلکه کې سپاره شي او هماڵته په ارګ کې پاتې شول.»

بهرنيو چارو وزير حنيف اتمر چې د ولسمشر هم رکابه ؤ په داسې وخت کې ارګ ته راورسيد چې چورلکې الوتې وې، حنيف اتمر په ورستيو شيبو کې ارګ ته رارسېږي او د ولسمشر پاسپورټ يې په جيب کې دی. خو د ولسمشر چورلکې الوتې دي. اتمر، رحيمي او بيک ته وايي، چې لومړی کس تللی دی. له همدې امله هغوی د سلام رحيمی کور ته او له هغه ځايه کابل هوايي ډګر ته ځي. (۸صبح: د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)



(حنيف اتمر او نور د کابل په هوايي ډګر کې)

نېټه: /۸/۱۴۰۰ل. ل

نور بيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ